بسم الله الرحمن الرحيم

## حزب التحریر- ولایه ترکیه په شانلي‌اورفه ښار کې د «اقتصادي ناورین اسلامي حلاره » تر سرلیک لاندې اقتصادي کنفرانس تر سره کړ

حزب التحریر- ولایه ترکیه د خلافت د ړنګېدو 1342هـ.ق، د رجب 28مه، د 101 کالیزې په ویاړ په شانلي‌اورفه ښار د روحا هوټل کې د «اقتصادي ناورین اسلامي حلاره » تر سرلیک لاندې اقتصادي کنفرانس دایر کړ.

د الله تعالی په فضل سره د شانلي‌اورفه ښار وګړو په یاد اقتصادي کنفرانس کې په ګډون سره خپله علاقه وښودله او په دې کنفرانس کې یې پراخ ګډون کړی وو، چې د حزب التحریر- ولایه ترکیه له لوري جوړ شوی و.

محمود ګوشمن، د قرآن‌کریم په تلاوت کولو سره غونډه پیل کړه. مصطفی کوچوک سټېج ته راغی او مېلمنو ته یې د ښه راغلاست افتتاحیه وینا واوروله. ډاکټر عبدالرحیم سن اقتصادي ناورینونو ته د اسلامي حلارو په اړه بحث وکړ او د اسلام تاریخ له 13 پیړیو څخه یې مثالونه راوړل. دغه راز خلکو ته یې روښانه کړه چې اسلامي اقتصادي سیستم تر ټولو سم او کامیاب سیستم دی. هغه د بیلګو او احصاییو په وړاندې کولو سره زیاته کړه، چې اوسنی اقتصادي بحران، چې د ترکیې لمن یې نیولې د پانګوال اقتصادي سیستم، د پانګې ناعادلانه وېش له امله دی او دا له خزانې سره د چارواکو خیانت دی، چې دوی ته سپارل شوې ده. ډاکټر سن زیاته کړه که چیرې د ګوتو په شمار شتمن خلک زکات ورکړي، ټولنه به له بدبختۍ څخه وژغوري او د زکات اخیستل د دولت دنده ده. هغه د حضرت ابوبکر صدیق د وخت مثال ورکړ، چې یوه ډله خلکو زکات نه ورکاوه او اسلامي دولت جګړه ورسره وکړه.

وروسته له ډاکټر سن څخه استاد عبد الله اماماوغلو او د (سنت د ژوند منبع په اسلام کې او د مسلمانانو سیاسي مذهبي زده کړې) او د رېښه یي بدلونونو مجلې لیکوال، خپله وینا د (د اسلام اقتصادي نظم پلي کولو وړتیا) تر سرلیک لاندې او د اسلامي تاریخ 13 پیړیو اقتصادي بیلګې میلمنو ته وړاندې کړل شوې. استاد اوغلو همداراز د نن ورځ په اړه هم څرګندونې وکړې چې څرنګه د سیکولر نظم ګډونوالو د ملت له خزانې پرته د الله تعالی له ویرې چور کړې او د سیکولر پانګوال نظام او اسلامي نظام تر منځ توپیرونه روښانه کړل.

د کنفرانس له ټولو ګډونوالو، لیکوالانو، ژورنالیستانو او مېلمنو څخه نړۍ مننه کوو او د الله تعالی له دربار څخه ورته د اعظیم اجر غوښتنه کوو، چې په ډېرې مینې یې زموږ کنفرانس تر پایه بدرګه کړ. په ځانګړي ډول لیکوالان او خبریالان چې د کنفرانس په ترتیب کې یې مرسته وکړه او خلکو ته یې د کنفرانس معلومات ورسول.

په پای کې کنفرانس په دې دعاء سره پای ته رسوو، چې الله تعالی دې ژر تر ژره هغه راشده خلافت تأسیس کړي چې یاد اقتصادي نظام پلی کړي.

**For more information Click Here**

**1443هـ.ق، رجب 25مه – 2022 م، فبروری 26مه، شنبه**

## د حزب التحریر ولایه ترکیې ویبپاڼې وګورئ:

**Official Site: Hizb ut Tahrir / Wilayah Turkey**

**Facebook: Hizb ut Tahrir / Wilayah Turkey**

**Twitter: Hizb ut Tahrir / Wilayah Turkey**

**Instagram: Hizb ut Tahrir / Wilayah Turkey**

**YouTube: Hizb ut Tahrir / Wilayah Turkey**

[Koklu Degisim Magazine]

| | |
|---|---|
| #ReturnTheKhilafah | #YenidenHilafet |
| #الخلافة_101 | #أقيموا_الخلافة |

